CORE
Cultural Orientation Resource Exchange


Pashto Version

# د کډوالو لپاره سرچینې



## د کډوالو میرمنو لپاره کار موندنه

په متحده ایالاتو کې دندې ستاسو د کورنۍ راتلونکې او هوساینې او همدارنګه د یوې میرمنې په توګه ستاسې پرمختګ او مالي ثبات لپاره خورا مهمې دي. ټول لویان، ښځې او نارینه چې د 18 او 64 کلونو ترمنځ عمرونه او د کار کولو وړتیا لري، باید دندې موندلو ته لومړیتوب ورکړي.




### د کار کولو ګټې


په متحده ایالاتو کې میرمنې د کاري ځواک نیمایي برخه تشکیلوي، په ټولو کچو د نارینه وو په څیر ورته دندې ترسره کوي، او ډیری وختونه د نارینه کارګرانو څارنه کوي. د دندې ترلاسه کول او ساتل ستاسو او ستاسو کورنۍ دواړو لپاره ډیری ګټې لري.

**د کورنۍ ملاتړ کول** – کله چې ښځه او خاوند دواړه کار کوینو د کورنۍ عاید ډیریزي، د میاشتني بیلونو او کرایې، او همدارنګه خواړو او پوښاک په څیر د لګښتونو ورکول اسانه کوي. دوه چنده عاید هم تاسو ته وړتیا درکوي چې پیسې خوندي کړئ او ستاسو د کورنۍ مالي خوندیتوب لوړ کړئ .

**د کارموندنې پراساس ګټې ترلاسه کول** – ځینې دندو کې ځینې داسې ګټې شاملې دي لکه روغتیا بیمه چیرې چې ګمارونکی د کارمند لپاره د بیمې پلانونه وړاندیز کوي او ډیری وختونه د میاشتني لګښت یوه برخه ورکوي. د بیمې پاتې لګښت د کارمند له معاش څخه اخیستل کیږي. ډیری امریکایان د کار پر اساس روغتیا بیمې پروګرامونو باندې تکیه کوي ځکه چې د روغتیا پاملرنې لګښت لوړ دی او روغتیا بیمه د دې لګښتونو په کمولو کې مرسته کوي. ستاسو د کاري ځای له لارې د روغتیایي بیمې ترلاسه کول د پام وړ ګټه ده.



**ستاسو انګلیسي ښه کول** – د کور څخه بهر کار کول تاسو ته اجازه درکوي چې خپله انګلیسي تمرین او ښه کړئ ځکه چې تاسو په مسلکي ژوند کې د همکارانو او مراجعینو سره خبرې کوئ. د انګلیسي زده کول به تاسو ته اجازه درکړي چې په خپله ټولنه کې دخیل شئ او د خپلو چارو اداره کولو ورتیا لوړه کړئ که تاسو د خوراکي توکو پلورنځي، د ډاکټر دفتر یا بانک ته ځئ.



**له نورو سره خبرې کول** – د کار ځای تاسو ته فرصت هم درکوي چې د متنوع خلکو ګروپ سره خبرې وکړئ او د امریکایی کلتور او ارزښتونو په اړه زده کړه وکړئ، کوم چې به تاسو ته ورتیا درکړي چې خپل نوي چاپیریال سره په ښه ډول سمون ومومئ.

**د مسلکي مهارتونو ترلاسه کول** – ستاسو لومړۍ دنده به تاسو ته مسلکي مهارتونه او پوهه درکړي چې تاسو به ستاسو راتلونکي دندې لپاره چمتو کړي. هرڅومره ډېر مهارتونه چې تاسو ترلاسه کوئ، ستاسو د پرمختګ یا غوره معاش لرونکې دندې د ترلاسه کولو چانس ډېر وي.



**د عامه ترانسپورت کارول یا د موټر چلولو زده کول** – کار ته د تګ را تګ لپاره اړینه ده چې د عامه ترانسپورت څخه ګټه واخلئ یا موټر چلول زده کړئ. د عامه ترانسپورت یا موټر چلولو څرنګوالي زده کول به ستاسو په خپلواکۍ او ځان بسیاینې کې ډېره مرسته وکړي، تاسو سره به ستاسو د چاپیریال او ښار پېژندلو کې مرسته وکړي، او تاسو ته به له خپل نوي کور سره د اشنا کېدو احساس درکړي.






## کاري کوونکي میندې او مجردې میندې



ډېری هغو میرمنو لپاره چې د کوچنیانو پالنه کوي د کار او کور د اړتیاو پوره کول ستونزمنېږي، په ځانګړي توګه که دوی مجردې میندې وي. په هرصورت، د هغو میندو لپاره د حل لارې چارې شتون لري چې له کوره د باندې کار کوي.

د حل یوه لاره داده چې ماشومان د ورځنۍ پاملرنې په مرکزونو کې شامل کړي. د ورځنۍ پاملرنې خدمتونه وړیا د فدرال له لورې Early Head Start نه‌دي. وختي پیل تمویلېدونکي پروګرام دی چې د زیږون څخه تر 3 کلنۍ پورې ټیټ عاید لرونکي ماشومانو ته خدمت کوي. یو بل هغو کورنیو ته وړاندې کېږي چې له Head Start پروګرام څخه تر 4 کلونو عمر لرونکي ماشومان ولري 3 له دې پروګرامونو څخه په یوه کې یې د ماشومانو داخلول له یوې تنها مور یا دواړو والدینو سره مرسته کوي ترڅو له کور څخه د باندې کار وکړي. بله حل لاره دا ده چې د ملګرو، ګاونډیو، یا د کورنۍ لویانو لکه نیا او نیکه څخه د ماشومانو د پالونکو په توګه ګټه واخیستل شي ترڅو له کارکوونکو والدینو سره مرسته وشي. د جوړو لپاره، دریمه حل لاره داده چې د والدینو څخه یو یې نیمه وخت وظیفه واخلي چې کاري ساعتونه یې په ماښام یا د اونیزو رخصتیو پرمهال وي، چې دا چاره له والدینو سره مرسته وکړي چې یو له هغوی څخه د ماشومانو پالنه وکړي، په داسې حال کې چې د بل یو یې په وظیفه کې وي.

## د کورنۍ ډینامیک بدلول



امریکایان په نارینه او ښځینه دواړو کې خپلواکۍ ته ارزښت ورکوي. په ډېرو کورنیو کې، دواړه میړه او میرمن کار کوي او په ځینو کورنیو کې، میرمن د میړه څخه ډېر عاید ترلاسه کوي. په ځینو نورو کورنیو کې میرمن دنده مومي، په داسې حال کې چې میړه یې نه پیدا کوي. پدې حالت کې، له میړه څخه تمه کېږي چې کله ماشومان په ښوونځي کې نه وي، له هغوی څخه ساتنه وکړي.

په دې ډول شرایطو کې، ځینې نارینه ممکن فکر وکړي چې په کورنۍ کې یې د رهبرۍ رول له لاسه ورکړی. ځینې میرمنې ممکن د فشار احساس وکړي ځکه چې دوی نوي مسؤلیتونه اخلي او د د پیسو ګټلو وسیله یواځې همدوی وي. له یو بل سره مرسته کول، د خلاص او صادقانه خبرو اترو سره، کولی شي پوهه زیاته کړي او د ښځې او خاوند ترمنځ فشار کم کړي.


**Cultural Orientation Resource Exchange**
8719 Colesville Road, 3rd Floor • Silver Spring, MD 20910


For more information, visit the CORE Resettlement Navigator website at **corenav.org**.

Cultural Orientation Resource Exchange


The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**